# مسیر
ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۸ د سلواغې ۲۸مه | د ۲۰۲۰ د فبرورې ۱۷مه | ۵۱۵مه گڼه


## د ولسمشریزو ټاکنو په اړه تازه نانډرۍ؛

### جمعیت، جنبش او وحدت گوندونه: که شفافیت مراعات نه شي،

### د (ثبات او همپالنې) حکومت اعلانوو



۳

**د اشرف غني له پښتو ښوونکي څمکه**

۲ مخ

**چینه! تکړه شه؛ ستا ښه دوستان، هر وخت او هر ځای له تا سره دي**

۲ مخ

**ایا د امریکا او طالبانو خبرې د سولې هر اړخیزې هوکړې مقدماتي پړاو دی؟**

۳ مخ

## خلیلزاد: د سولې لپاره باید ټول افغان لوري سره متحد شي

د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي له ولسمشر غني سره په کتنه کې د سولې روانو مذاکراتو ته خوشبیني ښودلې ده.

خلیلزاد ویلي، له ولسمشر غني سره یې په کتنه کې د سولې لپاره په رامنځ ته شویو فرصتونو او د تاوتریخوالي د کمېدو په تړاو خبرې کړې دي.

خلیلزاد پر ټولو افغان لوریو غږ کړی چې د سولې لپاره له دغه فرصته په ښه ډول گټه واخلي.

هغه ویلي: «خوښ یم چې یو ځل بیا مې په مونیخ کې له محمد اشرف غني سره وکتل، د تاوتریخوالي د کمېدو په فرصت او د همه شموله افغان سولې د پروسې د چمتووالي په اهمیت وغږېدو، په ټولو افغانانو غږ کوو چې د دې فرصت نه گټه واخلي او روانه خلوېښت کلنه غمیزه دې نوره پای ته ورسوي، ټول په دې پوهېږو چې د بریالیتوب ضمانت څوک نشي ورکولی، خو ټول باید زیار وباسو.»

په ورته مهال ولسمشر غني له ځینو امریکایي سناتورانو سره په کتنه کې ویلي، چې سوله د افغان حکومت او امریکا گډ هدف دی، خو په خبره یې، د سولې لپاره رامنځ ته شوي فرصتونه باید په دقیق ډول وارزول شي.

که څه هم تر دې مهاله امریکایي لوري او طالبانو د سولې توافق د لاسلیک دقیقه نېټه نه ده اعلان کړې، خو طالبانو ته نږدې سرچینې وایي، ممکن طالبان روانه اونۍ د تاوتریخوالي د کمېدو عملي بهیر پیل کړي.

خلیلزاد دغه راز ویلي، له ټولو هغو لوریو سره یې کتلي چې د افغان سولې په پروسه کې ښکېل دي او په خبره یې، اوسمهال د افغان سولې لپاره نړیواله اجماع رامنځ ته شوې ده.

## د سولې خبرو له بریالي کېدو وروسته د افغان کډوالو ستنولو ته زمینه برابروو




۵ مخ

هېواد

۴ مخ

## نیپال

د نیپال ۷۷ سلنه خلک د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي او د هېواد ۳۴ سلنه ناخالص کورني تولیدات له همدې سکټور څخه لاس ته راځي.



## ریحان: تېر کال په کندوز کې د ۲۵۰ میلیونو افغانیو په لگښت ۲۴۰ پروژې پلې شوې دي



د کندوز د کلیو د پراختیا رییس دوست محمد ریحان ویلي چې تېر کال یې د دغه ولایت په بېلابېلو سیمو کې د ولسي تړون پروگرام له لارې ۲۴۰ پروژې پلې کړې دي.

هغه ویلي چې په دغو پروژو کې کوچني سړکونه، کلیوالي لارې، استنادي دېوالونه او د اوبو کوچني بندونه شامل دي چې په ټولیز ډول څه باندې ۲۵۰ میلیونه افغانۍ پرې لگول شوې دي. د ریحان په خبره، د یادو پروژو د تطبیق پر مهال زرگونو کسانو ته د کار زمینه او لسگونو زرو نورو کسانو ته په یادو برخو کې اسانتیاوې برابر شوې دي.

نومړي دغه راز ویلي چې په ۱۲۰ کلیو کې دوی د ساتنې او څارنې پروژې هم لري چې د دوی له لوري د پلې شوو پروژو د ساتنې او څارنې مسوولیت ور پر غاړه دی.

هغه زیاته کړې چې د اقرا برنامې له لارې په دغه ولایت کې د ۵۴ ښوونځیو جوړولو چارې هم روانې دي.

## معنوی: فیصله های کمیسیون شکایات که خلاف تعهد عمل کرده، جایگاه قانونی ندارد



تیم انتخاباتی ثبات و همگرایی، ضمن هشدار از بیرون شدن از روند انتخابات ریاست جمهوری در انتقاد برعملکرد کمیسیون های انتخاباتی می گوید که ممکن نیست که نتیجه تقلبی و خودساخته را مردم بپذیرند.

فضل احمد معنوی مسئول سیاسی تیم انتخاباتی ثبات و همگرایی به رهبری داکتر عبدالله که دیروز در یک نشست خبری در کابل صحبت می کرد، گفته است که کمیسیون انتخابات بدون داشتن پلان کاری و درعدم حضورداشت ناظرین کمیسیون شکایات انتخاباتی، تیم های انتخاباتی ونمایندگان نهادهای ناظر، دیروز در برخی ولایات روند تفتیش و بازشماری را آغاز کرده است.

او بدون ارایه جزئیات گفته است که این کمیسیون توسط افراد متقلب در شماری از ولایات بازشماری را انجام داده است.

معنوی درادامه گفته است که هرچند تیم انتخاباتی آنها نمی خواست که بار دیگر در روند حضور داشته باشد؛ اما به اساس تعهداتی که کمیسیون شکایات داشت، با کمی و کاستی هایی که در این روند بود ناگزیر سازش کرد.

وی افزوده است: «اکثریت فیصله هایی که از سوی کمیسیون شکایات صورت گرفته، جایگاه قانونی ندارد، تعهد کرده بودند که آرای بدون بایومتریک و آرای خارج از زمان رای گیری را اعتبار نمی دهند؛ اما خلاف آنچه تعهد کرده بودند عمل کردند.»




Aksos Book Store

اکسوس کتابپلورنځی

کتاب مو د ژوند ملگری کړئ

Aksos

کابل دریمه ناحیه، دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

aksosbookstore@gmail.com

دریــځ

## د اشرف غني له پښو ښویېدونکې ځمکه

د طالبانـو او امریکا تر منځ د تاوتریخوالي د کمولـو مرحله ژر پیلېدونکې ده. ټاکل شـوې چې د دې مرحلې په پای کې د دواړو اړخونو لـه لـوري د سـولې هوکړه لیک هم په رسـمي ډول لاسلیک شي. امریکایـي چارواکي مني چې توافقات شـوي او ژر بـه تاوتریخوالی کم شي. له دې سره هممهاله د ارگ واکمن او د دوی ملگـري لا هـم د جگـړې د دوام لپـاره نه یـوازې لابي کوي، بلکې د سـولې پـر وړاندې عملي خنډونـه هـم جـوړوي. د مونیـخ پـه امنیتـي کنفرانس کـې نه یـوازې اشرف غني د طالبانـو پـر ضـد تونـدې، تېزې او لـه تورونو ډکـې خبرې کـړې دي، بلکې امراللـه صالح یـې هـم ورسره مونیـخ تـه بیولی چـې هلته د سـولې ضـد پروپاگنډا پر مـخ یوسي.

دا داسـې ورځـې دي چـې د جگـړې ټـول ښـکېل لـوري بایـد نرمه، خـوږه او سـوله ییزه ژبـه وکاروي، خـو د دې هـر څـه خلاف اشرف غنـي او ملگـري یـې لا هـم د جگـړې پـه موډ کـې دي. پـه مونیـخ کـې د ولسـمشر غنـي ځینـې خبرې په رښـتیا هم چې له یـوه اړخه د سـولې ضـد او د جگـړې له بویـه ډکې دي، لـه بلـه اړخه شرموونکې دي چې پکې سپـک او لوېدلي الفـاظ کارول شـوي دي. دا سـمه ده چـې د جگـړې او وحشـت دا پروپاگنـډا بـه لا هـم د امریکایـي سـناتور روهراباکـر پـه شـان افغـان دښـمنه او د افغانسـتان د تجزیـې غوښـتونکي مینـه وال ولـري، خـو پر افغـان ولـس سربېره، ډېری امریکایـان او نور خلـک هـم د سـولې، پخلاینـې او جوړجـاړي پلویـان دي. هغـوی چې اشرف غنـي، د هغه پـر شـاوخوا را ټولـو لـه غرب څخـه راغلـو ځو ځوانانـو او د جگـړې پلویانو ته یې د دې ډول خبـرو او دریځ نیولو ماموریـت ورکـړی، تر پایه بـه یـې ملاتـړ ونه کـړي. د سـولې او جوړجـاړي معاملـه د امریکایـي گټو لپـاره ده، نو څه چې اشرف غنـي یـې کـوي، ښـایي د لنډ وخت لپـاره د هغـه د گومارونکو له گټو سره مرسـته وکـړي، خـو ژر بـه یـې تـر پښـو لانـدې ځمکه ښـویېږي او هغـه بـه د افغان ولس حسـاب او د تاریـخ قضـاوت تـه پاتـې کېږي.

اشرف غنـي بایـد پـوه شي چې هغـه نهه لکه اصلـي او جعلـي کسـان بـه هـم تـرې بېلیږي چـې ده تـه یـې رایـه ورکـړې. دا نهـه لکـه شـمېره هـم یـا جعـل دی او یـا هـم د سـلگونو میلیونـو ډالرو د لگولـو او پراخو تبلیغاتو پایله ده چـې لـه سـولې سره پـه مخالفـت کـې بـه دا ملاتـړ هـم ور پاتـې نـه شي. د اشرف غنـي سـتره تکیـه چـې امریکایـي اړخ و، اوس نور د تکیـې کار نـه ورکـوي او لـه ولس سره خـو د اشرف غنـي اړیکـه هسـې هـم لـه پخوا پـرې شـوې ده. یـوازې نهـه لکـه اصلي او جعلي ملاتـړي چـې ور پاتـې وو، هغـه بـه هـم تـرې جلا کېږي. غني او څو جگړه خوښـه ملگري بـه یـې یـوازې پاتـې کېږي. لـه همـدې امله پـکار ده چـې نـور د پردیـو ماموریتونـو د پر مخ وړلـو پـر ځـای د خلکـو پـه خنـگ کـې ودریږي. لـه دې پرتـه بـه د هغـو واکمنـو لـه برخلیـک سره مـخ کېږي چـې خپـل ولس تـه یـې د ده پـه شـان مرگ ډالـۍ کاوه او د جگـړې او وحشـت د دوام هڅـې یـې کولـې.



▶ لیکنه: نقیب الله مل

# چینه! تکړه شه؛

## ستا ښه دوستان، هر وخت او هر ځای له تا سره دي




د چیـن د خلکـو د نـوي دودیـز کال پـه درشـل کـې چـې سـر کال د جنـوري لـه ۲۵مـې نېټـې سره برابـر و، پـه داسـې حـال کـې چـې خلکـو پـه بـې صبـرۍ سره د خپـل نـوي دودیـز کال نمانځلـو تـه پـه تمـه شـېبې شـمارلې او ډېـر خـو د نـوي کال د رخصتـۍ فرصـت تـه سـترگې پـه لاره وو چـې لـه اوږده ځنـډ وروسـته بـه یـو ځـل بیـا خپلـو کورونـو تـه سـتنېږي، خپـل نـږدې خپلـوان او دوسـتان بـه لـه نـږدې گـوري او د خپـل پسرلنـي دودیـز اختـر ورځـې شـېبې بـه پـه گـډه نمانځـي؛ خـو پـه همـدې درشـل کـې لـه نـوي کال یـوازې څـو ورځـې مخکـې ناڅاپـه یـوه بـې مخینـې او ناپېژنـدل شـوې ناروغـي لومـړی د کورونـا پـه نـوم د یـو ویـروس لـه املـه اول ځـل د چیـن هـوبې ولایـت مرکـز ووهـان ښـار کـې پیښـه شـوله. ځرنگـه چـې د ناروغـۍ لامـل یـو بـې سـابقه، ناآشـنا او ناپېژنـدل شـوی ویـروس و، هماغـه وو چـې د چټکـې خپرېـدا لامـل هـم شـو.

د چیـن مرکـزي دولـت او ځایـي ادارو سمدلاسـه د دې ناروغـۍ د مخنیـوي او کابـو کولـو پـه موخـه جـدي تدابیـر ونیـول او یـوه لـوړ رتبـه کمېټـه یـې تشـکیل کـړه. د ووهـان یوولـس میلیونـي ښـار یـې قرنطیـن او پـه نـورو ښـارونو او ولایتونـو کـې هـم اړونـد اړیـن جـدي تدابیـر ونیـول شـول. د رعیـت او دولـت گـډې هڅـې د دې سـبب شـولې څـو ولـس د ځـان سـاتنې، وقایـوي بیړنـۍ لارې چـارې او د عامـه پوهـاوي پـراخ کمپایـن پـه تـرڅ کـې پـه ښـه توگـه خپلـې کـړي. د خلکـو بـاور او ملاتـړ د حکومـت هـوډ لا پیـاوړی کـړ او د اغېزمنـو منظمـو تدابیـرو پـه مټ یـې منظـم پیـاوړي روغتیایـي پلانونـه پـه ښـه توگـه عملـي کـړای شـول.

د دې ناروغـۍ ویـروس د خپـل عادت او خاصیـت لـه مخـې نـږدې د دوو اونیـو پـه تـرڅ ځـان ښـکاره کـوي. پـه عمـده توگـه د سـږو د التهـابي کېـدو، سینه بغـل د وچ ټوخـي او تبـې لامـل گرځـي، هغـه چـې مرگـوني دي. لـه بـده مرغـه دا سـخته او پېچلـې سـاري ناروغـي ده. مخکینـۍ ریکارډ او سـاری یـې نـه دی لیـدل شـوی، نـو ځکـه یـې اړونـد ځانگـړې درمـل هـم تـر اوسـه نشـته. پـه چیـن کـې د روغتیـا وزارت پـه ټولـه کـې د چیـن حکومـت یـې د مخنیـوي او لـه منځـه وړلـو پـر لارو چـارو کار کـوي، پـه دې لـړ کـې د سـختو او جـدي هلـو ځلـو او کوښـښونو پـه تـرڅ کـې تـر اوسـه د یـادې ناروغـۍ د مهارولـو، مخنیـوي او د بیخـي محـوه کولـو پـر وړانـدې جـدي مبـارزه پـه کامیابـۍ مـخ پـر وړانـدې ځـي.

اوسـمهال لـه دې سـاري ناروغـۍ سره مبـارزه د چیـن حکومـت تـر ټولـو مهمـه او بیړنـۍ دنـده ده. د چیـن دولـت رییـس شي جیـن پینـگ پـه دې اړه تـر اوسـه د څـو ناسـتو مـشري کـړې، د کارونـو او حالـت څارنـه او ارزونـه یـې لـه نـږدې کـړې ده، یـوه ځانگـړې روغتیایـي کمېټـه د چیـن د روغتیـا او طبـي چـارو پـه نـوم د چیـن صـدر اعظـم پـه مشرتابـه جـوړه شـوې ده. د حکومـت او پـه ټولـه کـې د خلکـو مسـوولانه رویـه، وقایـوي، احتیـاتي تدابیـر، د روغتیایـي کارکوونکـو هلـې ځلـې او د تجربـو زیاتـوالي د دې ناروغـۍ پـه کنټـرول کـې تـر ډېـره اغېزمنـه ونـډه درلودلـې ده. سـخت هـر اړخیـز تدابیـر هغـه چـې ځینـې یـې د روغتیـا نړیـوال سـازمان لـه تدابیـرو هـم سـخت دي، پلـي شـوي دي.

چیـن پـه خپـل ټـول طاقـت سره د دې ناروغـۍ پـر وړانـدې بریالـۍ مبـارزه کـوي او بالاخـره وتوانېـد چـې د ۱۰ ورځـو پـه تـرڅ کـې پـه ووهـان ښـار کـې دوه نـوي مجهـز روغتونونـه د ۲۶۰۰ بسـترونو پـه درلودلـو سره جـوړ کـړي او د ناروغانـو د منلـو او درملنـې لپـاره یـې امـاده کـړي. څـه بانـدې پنځویشـت زره تکـړه او تجربـه کاره ډاکټـران او طبـي کارکوونکـي ووهـان ښـار او نـورو زیانمنـو سـیمو تـه لېـږل شـوي دي، دا ټـول د دې ښـکارندویي کـوي چـې د دغـې سـاري ناروغـۍ د محـوه کولـو پـر وړانـدې د چیـن اراده ټینگـه، نـه سـتړې کېدونکـې او وړتیـا او زړورتیـا یـې فـوق العـاده او سـتره ده.

د دې تـر څنـگ، چیـن پـه خپـل وار د نړیـوال روغتیایـي امنیـت پـه اړه هـم پـه پـوره مسـوولیت سره د پـام وړ لارې چـارې تـر سره کـړې دي. پـه ځرگنـده، رڼـه توگـه او مسـوولیت سره یـې اړونـد معلومـات خپـاره کـړي دي، پـه لومـړي وخـت کـې یـې د کورونـا ویـروس د جینونـو حالـت او نقشـه لـه نړیوالـو کارپوهانـو او ساینسـپوهانو سره شریکـه کـړې ده، د مختلفـو خـواوو اندېښـنو تـه یـې پـر وخـت ځوابونـه ویلـي دي او پـه دې ترتیـب لـه نړیوالـې ټولنـې سره دوامـداره همـکاري او تبادلـه یـې ټینگـه سـاتلې ده.

پـه چیـن کـې اوس د هغـو کسـانو شـمېر چـې لـه دې ناروغـۍ څخـه رغیـږي، ورځ تـر بلـې مخ پـه زیاتېـدو دی. د فـبروري د ۱۶مـې نېټـې تـر پایـه نـږدې لـس زره ناروغـان روغ شـوي او لـه روغتونونـو رخصـت شـوي دي. دا د دې ناروغـۍ د کنټرولېـدو یـوه مهمـه نښـه ده. بـاور لـرو چـې د یـادې سـاري ناروغـۍ د خپرېـدو پـه حالـت کـې بـه ډېـر ژر د نـور ښـه والي او بدلـون لیدونکـي اوسـو. پـه همـدې لـړ کـې د روغتیایـي کارکوونکـو تجربـې او وړتیـاوې د پـام وړ دي او لیـدل کیـږي چـې ورځ تـر بلـې زیاتیـږي او ژر بـه د دې ناروغـۍ ځانگـړې درمـل پـر جوړولـو وتوانیـږي.

لـه نېکمرغـه تـر اوسـه پـه افغانسـتان کـې د دې ناروغـۍ نښـې نښـانې نـه دي لیـدل شـوې او ځـوک پـرې نـه دي اختـه شـوي. پـه چیـن کـې هـم تـر اوسـه هیـڅ افغـان پـر دې ناروغـۍ نـه دی اختـه شـوی. افغـان دولـت او پـه ټولـه کـې افغـان ملـت لـه پیلـه لـه چیـن سره پـه دې سـخت وخـت او حالـت کـې د خپلـې ملگرتیـا او دربېدنـې غـږ کـړی دی او دې غـږ تـه بیـا افغـان ځوانانـو او فعالانـو هـم پـه چیـن کـې او هـم پـه افغانسـتان کـې د عمـل جامـه ور واغوسـتله. د نشـتو امکاناتـو پـه حـال کـې لاس پـکار او بسـپنه شـوې مرسـتې یـې اړونـدو چینـي ادارو تـه وسـپارلې، هغـه چـې د چیـن او افغانسـتان تـر منـځ د متقابلـې خواخـوږۍ، مرسـتې او د ژوري دودیـزې دوسـتۍ ښـکارندویي د غـوره نمونـې پـه توگـه بـه پاتـې، یادیـږي او بلـل کیـږي. ښـه دوسـتان، ښـه ملگـري او همـکاران همېشـه پـه سـختو او سـتونزمنو وختونـو کـې ځرگنـد او لیـدل کیـږي. گنـي، د ښـو ورځـو او ښـو وختونـو تـش یـاران او دوسـتان ډېـر زیـات دي. د چیـن او افغانسـتان تـر منـځ د متقابلـې مرسـتې او ملاتـړ پـه اړه د ښـو دودونـو او کارنامـو مثالونـه او بېلگـې کمـې نـه دي. د دواړو خـواوو د وگـړو تـر منـځ دا احسـاس هـر وخـت فعـال لیدلـی شـو، کـوم چـې تـر ډېـره د دواړو هیوادونـو ملتونـو او ولسـونو د اړیکـو پـه نږدېـوالي کـې مهـم تاثیـر او ځـای لـري.

پـه دغسـې یـو وخـت کـې زه هـم لـه خپلـې کورنـۍ سره د نـور ډېـرو افغانانـو پـه شـان پرتـه لـه کومـې وېـرې او اندېښـنې د چینـي دوسـتانو، ملگـرو او همکارانـو تـر څنـگ یـو او دې ننگونـې تـه نـه وایـم او دا شـعار پـه لـوړ غـږ لـه ټولـو افغانانـو سره یـو ځـای بدرگـه او زمزمـه کـوم:

چینه! ته یوازې نه یې!
مور له تا سره یو!
ستا تر څنگ یو!
چینایي دوستانو!
تکړه شئ، تکړه شئ...!!

او دا د چیـن او افغـان دوسـتۍ د یـوې وړې بېلگـې د جوړونـې، ښـودنې او ځلونـې پـه توگـه پـه عمل کـې ښـیو. انشـاءالله دا ناروغـي بـه ژر ختمـه او لـه منځـه ځـي، ورسره د ښـو، رښـتینو دوسـتانو، د ملگـرو رښـتینې دوسـتۍ او اړیکـې بـه لا پسـې ټینگښـت او غوړېـدا مومـي. د انسـاني فطـرت جوړښـت همداسـې دی او لازمـه ده چـې یـوازې د انسـان دوسـتۍ پـه موخـه وکارول شي، لـوی کـه واړه هیوادونـه دي د بحرانونـو، سـتونزو مخنیـوی او کابـو کـول لـه یـو بـل سره مرسـته کـول بایـد ورتـه لومړیتـوب وي، لـه یـو بـل سره د همـکارۍ او مرسـتې رویـه سـتر انسـانیت، خدمـت او عبـادت دی، دا هماغـه اصـل دی چـې مـوږ د بشریت گډ برخلیک ټولنـې جوړولـو او نـږدې کولـو تـه ورکاږي.

همـدا سـتر اخلاقـي جرئـت دلتـه پـه ووهـان ښـار کـې د ځینـو هیوادونـو ډیپلوماتانـو پـه خپـل شـتون سره پـه ښـه توگـه تـر سره کـړی دی او لیدلـی شـو چـې د ووهانیانـو تـر څنـگ پاتـې دي او خپلـې نماینـدگۍ، کنسـلگرۍ یـې پرانېسـتې او فعالـې سـاتلې دي، پـه دې ډول یـې د خپـل ملاتـړ او دوسـتۍ ښـودنه کـړې ده.

د سـاري ناروغیـو پـر وړانـدې د چیـن د اغېزمنـې مبـارزې تجربـې بـه پـه راتلونکـې کـې د نړیوالـې ټولنـې لپـاره د زده کـړې وړ ښـې نمونـې اوسي او لـه اغېزمنـو او گټـورو تجربـو بـه یـې تـل یادونـه او کار اخیسـتنه کیـږي.

ویـروس او سـاري ناروغـۍ پولـې نـه پېژني او بې پولـې خپرېږي، سـاري ناروغـي معمـولاً د لنـډې مـودې لپاره پایښـت کـوي، هېڅکلـه پـه کومـه ځانگـړې جغرافیـه، نـژاد او حیـوان پـورې اړونـد نـه وي، بلکـې یـوازې یـوه ناروغـي او لـه یـوې ناروغـۍ سره اړه لـري. پـه همـدې سلسـله کـې د فـبروري پـه یوولسـمه نېټـه پـه ژنیـو کـې د روغتیـا نړیـوال سـازمان پـه مقـر کـې د دوه ورځنـۍ غونـډې پـه تـرڅ کـې د څېړنـو او علمـي بحثونـو پـه رڼـا کـې دا ناروغـي د همداسـې مشـخصاتو لرونکـې وبلـل شـوه او د COVID- ۱۹ نـوم ورتـه ورکـړل شـو.

پـه دې توگـه د دې ناروغـۍ پـه اړه د نـورو غیـر معیـاري، غیـر علمـي او ناسـمو نومونـو مخـه ونیـول شـوه، پـه راتلونکـې کـې د دې سـاري ناروغـۍ د نـورو احتمـالي پېښـو پـه اړه یـو منـل شـوی معیـار جـوړ او وټـاکل شـو. خوشـبیني ده چـې پـه راتلونکـو اتلسـو میاشـتو کـې بـه د دې ناروغـۍ واکسـین هـم جـوړ شي.

# ايا د امريکا او طالبانو خبرې د سولې هر اړخيزې هوکړې مقدماتي پړاو دی؟

جوناتهن مارکس -د دفاعي او ډيپلوماتيکو چارو خبريال

ايا طالبان به له امريکا سره هوکړې ته ژمن پاتې شي؟

په ميونخ کې له کلني امنيتي کنفرانسه ټولې څرګندې شوې اشارې ښيي چې ښايي امريکا او طالبان به په څو راتلونکو ورځو کې يوه هوکړه اعلان کړي، چې ورسره به د افغانانو تر منځ مذاکراتو ته لاره هواره او له دغه هېواده به د امريکايي پوځ وتلو ته زمينه برابره شي.

د واشنګټن تر ټولو اوږده جګړه ښايي پای ته ورسېږي او ولسمشر ټرمپ به احتمالاً د ولسمشرۍ لپاره د بيا کانديد کېدو په صورت کې له خپلې هغې ژمنې ګټه پورته کړي، چې ويلي يې وو، امريکايي پوځيان به بېرته کورونو ته ستنوي.

د ټرمپ د ادارې لپاره دا خورا مهم پړاو دی او دغه راز د افغانستان لپاره هم ښايي د ګټې يا بايلود تر منځ حالت دی، ځکه د دغه هېواد راتلونکی په مشروط حالت کې دی، چې څه ډول حکومت به هلته بريالی شي؟

هر ډول جوړ جاړي ته له رسېدو مخکې ډېرې پوښتنې راپورته کېږي، د بېلګې په توګه، دا چې اصلاً پر کومو مسايلو خبرې شوې دي؟ او ايا دا روغه جوړه افغانستان شموله ده؟ او که دا يوازې داسې يوه ساده هوکړه ده، چې د امريکايي ځواکونو وتلو ته لار پرانيزي؟

کېدای شي دواړه ډولونه ولري، خو دا هم کېدای شي چې يوازې وروستی ياده شوې موضوع راونغاړي، البته تر اوسه داسې ډېر جزيات نشته چې د کومو موضوعاتو په تړاو پرېکړه شوې ده، خو ګومان دا دی چې هوکړه نږدې ده.

په ميونخ کې د محمد اشرف غني او مايک پامپيو له ليدنې وروسته، د احتمالي هوکړې ځينې جزيات برالا شوي دي.

د امريکا بهرنيو چارو وزير مايک پامپيو د ميونخ کنفرانس په څنډه کې له افغان ولسمشر محمد اشرف غني سره خبرې کړې دي.

له دې ليدنې وروسته يو امريکايي چارواکی د جوړ جاړي ځينو جزياتو په هکله غږېدلی دی، چې وايي، ډېر ژر به د امريکا او طالبانو تر منځ په افغانستان کې يوه اونۍ اوربند وشي، چې کېدای شي د امريکايي ځواکونو د وتلو پيلامه ثابته شي.

دغه چارواکی وايي، د تشدد کمولو له لومړنۍ هوکړې وروسته به په لسو راتلونکو ورځو کې د سولې بين الافغاني خبرې کېږي چې ټول افغان لوري به پکې شامل وي او همدا د لوړو هيلو اوج ته د رسېدو تکل ښکاري.

خبرې به خورا تفصيلي وي. د افغان او امريکايي ځواکونو خلاف تشدد هم د خبرو برخه ده او د امريکايي چارواکي په خبره، د تشدد کلمې مانا پر کاغذ تشريح شوې ده.

د نورو ډلو له لوري د تشدد رامنځ ته کېدو په صورت کې به هره پېښه توضيح کېږي او د دې لپاره به د امريکايانو او طالبانو تر منځ د اړيکې يوه لاره موجوده وي او طبعاً په دې هر څه کې د تعقيب او توضيح شرايط هم شامل دي.

ويل کېږي، طالبانو منلې چې په اوږدمهال کې به په هغو سيمو کې چې د دوی په واک کې دي، د نړيوالو ترهګرو ډلو کوربه‌توب نه کوي، د روزنې زمينه به نه ورته برابروي او نه به هم مالي مرستې ورسره کوي.

د افغان حکومت او طالبانو تر منځ خبرې به د يوه ((تلپاتې او هر اړخيز)) اوربند له بحث سره پيلېږي. تر دې مهاله هر څه سم ښکاري، خو داسې نښې نښانې هم شته چې له کومه ځايه د ورانۍ رامنځ ته کېدو احتمال شته.

تر اوسه معلومه نه ده چې اصلاً امريکايان له چا سره خبرې کوي او دغه کسان تر کومه بريده د ټولو طالب عناصرو استازيتوب کوي.

په افغانستان کې داسې نورې وسله والې ډلې هم شته چې د ستونزو راپورته کولو ته ليوال دي، نو ايا رښتيا د سولې يوه هوکړه به له دوی خوندي وساتل شي؟

د ناټو عمومي سرمنشي ستولټنبرګ ويلي، په افغانستان کې تلپاتې سوله د افغانانو له خپلمنځي خبرو پرته نه شي راتلی، چې په خبره يې، پخپله افغانان بايد د خپل راتلونکي په اړه يوه خوله او يو موټی شي.

بله دا چې تر اوسه معلومه نه ده چې په سيمه ييز تناظر کې د سولې په يوه احتمالي هوکړه کې پاکستان کوم ځای لري؟

يو بل څه چې نه پرې پوهېږو د امريکايي ځواکونو د وتلو سرعت او ترتيب دی. که څه هم په ظاهره به امريکايي چارواکي نه غواړي داسې اړتيا پېښه شي، خو ايا هلته به ځينې امريکايي ځواکونه پاتې کېږي او که نه؟

او احتمالاً تر ټولو مهمه پوښتنه دا ده چې ايا پر طالبانو دا باور کېدای شي، چې هغه څه به عملي کړي چې هوکړه پرې کوي؟

که يو ځل امريکايان پر خپله لار لاړ شي، ايا دوی به خپله په افغانستان کې د ننه د سولې يوې پراخې هوکړې ته ژمن پاتې شي؟ او که دوی ژمن نه پاتې کېږي، د امريکا بنديزونه به څه وي؟

خو اوس خورا ډېر پرمختګ شوی او امريکايان په څرګند ډول د طالبانو له لوري د جديت ښوولو لومړنيو او ژر تر ژره اشارو ته په تمه دي. د يوې اونۍ لپاره د تشدد کمول دغه بهير ته غځېدلې لار ده.

بل لور ته ډېری امريکايي شنونکي په دې اند دي چې ولسمشر ټرمپ د خپلو سياسي دليلونو پر بنسټ (له افغانستانه) وتلو ته بېړه کوي.

ځينې امريکايان به خواشيني وي چې د (تل پاتې جګړو) اوږدمهاله کمپاين بالاخره پای ته د رسېدو فرصت لري، خو هېڅوک ښايي نه پوهېږي چې له دې وروسته به څه کېږي.

روانه اونۍ د امريکا د دفاعي چارو ماهر ټوني کورډسمان يوه انديښنه راپورته کړه چې هغه (سوله) چې ولسمشر ټرمپ يې راولي، ښايي د امريکايي ځواکونو وتلو (ويتناميز) کول وي.

نوموړی زياتوي: «داسې ډېرې نښې نښانې شته چې ښيي د سولې دا هڅې د امريکايي ځواکونو ايستلو لپاره د جوړ جاړي يو داسې سياسي پوښ موندلو يوه هڅه وي، چې امريکايانو په ويتنام کې پرې مذاکرات کړي وو.»

# د ولسمشريزو ټاکنو په اړه تازه ناندرۍ؛

## جمعيت، جنبش او وحدت ګوندونه: که شفافيت مراعات نه شي، د (ثبات او همپالنې) حکومت اعلانوو



سره له دې چې د ولسمشريزو ټاکنو له تر سره کېدو ورو ورو پنځه مياشتې پوره کېږي، خو لا هم د دغو ټاکنو پايلې نه دي اعلان شوې او د ورځې په تېرېدو د ټاکنيزو ډلو او کمېسيونونو تر منځ ناندرۍ ډېرېږي. تازه د ثبات او همپالنې ټيم وايي چې د ټاکنو خپلواک کمېسيون پر خپل قانوني مسير نه دی روان او که خپلو اقداماتو ته همداسې ادامه ورکړي، نو دغه ټاکنيزه ډله روان بهير تحريم کوي. بلخوا جمعيت ګوند بيا د يوې خبرپاڼې په خپرولو سره ويلي چې ښايي د موازي حکومت د اعلانولو لپاره اقدام وکړي. له دې سره جوخت د ټاکنو خپلواک کمېسيون په ځينو مرکزونو کې د رايو بياشمېرنه هم پيل کړې ده.

د شکايتونو خپلواک کمېسيون د بېلو ټاکنيزو شکايتونو په اړه خپلې پرېکړې د ټاکنو له خپلواک کمېسيون سره شريکې کړې دي. دغه کمېسيون اړ دی چې د ټاکنيزو شکايتونو له پرېکړو سره سم اقدامات وکړي، خو تازه د ثبات او همپالنې ټاکنيزه ډله وايي چې د ټاکنو خپلواک کمېسيون پر خپل قانوني مسير نه دی روان. د دغه ټاکنيزې ډلې د رهبرۍ غړي وايي چې د ټاکنو خپلواک کمېسيون بايد شفافيت ته ژمن وي او دغه راز د خلکو رايو ته بايد درناوی وکړي. د دغه ټاکنيزې ډلې غړي فضل احمد معنوي پرون په خبري غونډه کې د خبرو پر مهال وويل، چې د ټاکنو کمېسيون دې خپل مسير ته راوګرځي، که داسې ونه کړي، نو دوی دغه بهير تحريموي. نوموړی وايي: «پروسې ته مو ادامه ورکړه، تر دې ځايه راغلو، که قانون رعايت شي، شفافيت مراعات شي، پروسې ته ادامه ورکوي، خو که داسې ونه کړي، نو موږ دغه پروسه تحريموو. پايله خو د افغانستان خلکو ته معلومه ده، معلومه به شي چې کمېسيون به پايلې په چا مني.»

دغه ټاکنيزه ډله وايي چې د ټاکنو خپلواک کمېسيون ټول اقدامات د مشخصې ډلې په ګټه دي، د دوی ملاتړ کوي، شفافيت نه مراعاتوي او غير قانوني پروسې يې رامنځ ته کړې دي. معنوي وايي: «ځانګړې تفتيش، سمپل اخيستنه، په هېڅ اسنادو کې نشته ده. په هېڅ لايحه او فرمان کې نشته. د ټاکنو کمېسيون دا موارد له کومه کړي، په کوم اساس دا مسايل رامنځ ته کوي. د کمېسيون اقدامات هغه مهال د منلو دي چې د قانون پر بنسټ وي، له دې پرته هېڅ‌چا ته د منلو وړ نه دي.»

د ثبات او همپالنې ټيم وايي چې په ټاکنيزو کمېسيونونو کې بهرني کمېشنران بايد د شفافيت په هدف د خپلو ادعاوو پر اساس عمل وکړي او که دا کار نه کېږي، نو د شفافيت ادعاوې يې تر پوښتنې لاندې راځي.


د دې ډلې د رهبرۍ غړي خبرداری ورکوي، چې بيا ۲۰۱۴ ز کال نه تکرارېږي او داخل څوک تقلبي پايلې پر چا نه شي تحميلولی.

له دې سره هممهاله د جمعيت ګوند هم يوه اعلاميه خپره کړې ده او په هغه کې يې ويلي چې د ټاکنو خپلواک کمېسيون د يوې ځانګړې ټاکنيزې ډلې ملاتړ کوي. په اعلاميه کې راغلي چې دوی له کمېسيون د قوانينو رعايت او شفافيت ته ژمنتيا غواړي او که داسې ونه کړي، پايلې ورته د منلو وړ نه دي. دغه ګوند د ولسمشر د دويم مرستيال جنرال دوستم خبرو ته په اشارې ويلي چې که پر تقلبي رايو حکومت جوړېږي، نو ده د منلو نه ده او موازي حکومت به اعلانوي.

جمعيت ګوند هم په خپله اعلاميه کې ويلي چې که قوانينو ته درناوی ونه شي او حق حقدار ته ونه سپارل شي، نو د ډاکټر عبدالله عبدالله په مشرۍ د ثبات او همپالنې حکومت جوړوي. په اعلاميه کې راغلي: «که شفافيت تامين نه شي، تقلبي رايو ته اعتبار ورکړل شي، د خلکو واقعي رايو ته په کتو موږ د ډاکټر عبدالله عبدالله په مشرۍ د ثبات او همپالنې حکومت اعلانوو او په دې برخه کې به عملي ګامونه هم اوچتوو.»

د ټاکنو په اړه تازه ناندرۍ داسې مهال دي چې د ټاکنو خپلواک کمېسيون د ځينو مرکزونو د رايو د بياشمېرنې خبر ورکړی دی. د ټاکنو خپلواک کمېسيون وايي، په څلورو ولايتونو کې د بياشمېرنې بهير بشپړ شوی دی او د دوشنبې تر پايه به په پاتې نورو ولايتونو کې هم بشپړ شي.

# سټولټنبرګ: امريکا او برېټانيا په اغېزمن ډول د اروپا د امنيت چتر رامنځ ته کړی دی




د ناټو عمومي منشي ينس سټولټنبرګ د فرانسې د ولسمشر ايمانويل ماکرون هغه څرګندونې رد کړې چې ويلي وو، د فرانسې اټومي وسلې د اروپا د دفاعي ستراتېژۍ د محور په اصلي مرکز کې دي.

نوموړي ويلي چې متحده ايالتونو او برېټانيا تر اوسه په اغېزمن ډول د اروپا لپاره د امنيت چتر رامنځ ته کړی دی.

سټولټنبرګ خبريالانو ته ويلي: «موږ بايد دا هېر نه کړو چې نن ورځ د اټومي ګواښ د مخنيوي لپاره اروپا لرو، ټول ۲۸ غړي هره ورځ په دې برخه کې کار کوي، دا يوازې يوه هيله نه ده، بلکې دا هغه څه دي چې څو لسيزې په دې برخه کې کارشوی دی.»

د ناټو عمومي منشي دغه راز زياته کړې: «په دې برخه کې ډېره هڅه شوې، ازموينې او عملي کارونه سرته رسېدلي او هغه پر يوه بنسټ بدل شوي او هغه نهايتاً د اروپا امنيت خوندي کوي.»

سټولټنبرګ دغه راز فرانسه يو ډېر ارزښتناک متحد بللی چې د ده په خبره، اټومي وړتياوو يې په ټوله کې د ناټو له امنيت سره مرسته کړې ده. دا په داسې حال کې ده چې د فرانسې ولسمشر چې له اروپايي ټولنې د برېټانيا تر وتلو وروسته په ټوله کې د دې ټولنې پر امنيت او دفاعي چارو د بيا غور لپاره هڅې کوي، د اروپا لپاره د يوې خپلواکې ستراتېژۍ غوښتنه کړې ده. ماکرون چې هېواد يې د اروپايي ټولنې يوازينی اټومي وسلې لرونکی غړی دی، زياته کړې: «داسې ستراتېژي چې پر واشنګټن له اتکا پرته د دې وچې لپاره د دفاع وړتيا ولري، خو هغه له دې سره سره له ناټو سره په خپلو ژمنو ټينګار وکړ.»

تېره اونۍ د مونيخ امنيتي کنفرانس ته ماکرون وويل، په دې اړه چې د فرانسې اټومي وسلې د ګواښ په مخنيوي کې څه ډول رول لوبولی شي، د اروپايي ټولنې د غړيو تر منځ بايد خبرې وشي او همدا راز يې د اروپا د دفاعي لګښتونو د زياتېدو غوښتنه هم وکړه.

دا په داسې حال کې چې نوموړي تر دې وړاندې هم د اروپايي ټولنې او ناټو سازمان پر پياوړتيا بيا بيا ټينګار کړی دی. نوموړي ورمه ورځ په مونيخ کنفرانس کې وويل چې لوېديځ د بل هر وخت په پرتله کمزوری شوی او اړتيا ده چې په دې برخه کې کوټلي ګامونه واخيستل شي.

## د کتاب خبرې

# د رهبرۍ اخلاق

◎ لیکوال: جان مکسویل
◎ ژباړن: میراحمد یاد

### هغه پنځه عوامل چې زرين قانون تتوي




**۲. خوند**

ایم سکاټ پیک په خپل کتاب کې خپله کیسه کوي چې په نهه کلنۍ کې یې څنګه نوی بایسکل ترلاسه کړ. هغه چې په یوه شي پوه شوی، له لوړه ځایه په کوزېدو یې د خپل بایسکل خوند او هیجان ته فکر شوی و؛ خو دستی پوه شوی و چې په داسې نوو او هیجاني خوندونو پسې درد وي. د هغوی کور په غونډۍ و، له غونډۍ یو سړک ښکته شوی و او ګولایي یې درلوده، ده ویل چې راځه بریک مه نیسه چې د بایسکل خوند به خراب شي، په دې خاطر همداسې تېز پرې ورغی اوسخت ټکر یې وکړ. نوموړ وایي:((زه چې په هغې ګولايۍ کې تاوېدم، خپل توازن مې ونه ساته، د دې پر ځای مې چټکتیا وساتله او په بدل کې مې یې درد ولید.)) ۴

د پیک د ماشومتوب تجربه د ډېرو ځوانانو له ژوند سره چنداني توپیر نه کوي. راځئ چې رښتیا ووایو، موږ په داسې ټولنه کې اوسېږو چې خلک یې یوازې په خوند پسې ګرځي. امریکایان له پېړیو پېړیو پر دې خبره هڅېدل چې«څه چې خوند درکوي، کوه یې.» خو دې چلن موږ ته یو بد میراث پرېښی دی: له پورونو تېښته او دیوالیه توب، طلاق او په نشه یې توکه روږدي کېدل. همدا خوندونه لټول د ستونزو جرړه کېدای شي. حقیقت دا دی، موږ چې په کومو خوندونو پسې ګرځو، دا ډېر لنډمهالي وي او موږ همداسې نیمه خوا پرېږدي. موږ چې کوم شیان له ځان سره اخلي، هغه شیان لږ راکوي چې راته ښودل شوي وي. رابرټ براونګ همیلټن په خپل شعر کې همدې موضوع ته اشاره کړې ده:

زه له خوند سره یو څو قدمه لاړم
خوند په ټوله لار له ځان سره بړبېده
بیا یې یوازې همداسې پرېښودم
د ټولو هغه شیانو لپاره چې باید ویلي یې وای
بیا له خپګان سره یو څو قدمه لاړم
خپګان هېڅ هم ونه ویل
خو ما له هغه ځینې شیان زده کړل
خپګان چې ماسره لاړ

که موږ یوازې خوند ته وګورو او ورته تسلیم شو، نو دا خوند او هوساینه به داسې کارونه راباندې وکړي چې وروسته به پرې پښېمانه یو. د خوند د دې لمسونې ځواب څه دی؟ لومړی دا چې له لمسېدنې ځان خلاص کړئ. مارک ټواین به خپل کتاب کې ویلي:((د لمسېدنې پر وړاندې احتیاطي اقدامات ډېر دي؛ خو تر ټولو خوندي یې «دووسي» ده.)) که تاسو یوه لمسه له اخلاقي پولو اوښتو ته لمسوي او تاسو یې په مقابل کې احتیاطي تدابیر لرئ، نو ځان په خطر کې مه اچوئ. که د غیراخلاقي کار لمسه مخامخ درته را روانه وي، نو لاره ترې بدله کړئ. بله دا ده چې په ځان کې ډسپیلن پیدا کړئ. ریچارد فوسټر په خپل کتاب کې لیکي:((باډسپلینه انسان هغه دی چې د اړتیا پر وخت د اړتیا وړ کار وکړي. باډسپیلنه انسان هغه دی چې په یوه ساعت کې مناسب ژوند کولای شي.))

راهب او ډېرخور دواړه یوه ستونزه لري: دوی منظم ژوند نه شي کولای او څه چې باید وشي هغه په خپل وخت نه شي کولای، منظم انسان ازاد او خپلواک انسان وي.

باډسپلینه انسان هغه دی چې د اړتیا پر وخت د اړتیا وړ کار وکړي – ریچارډ فوسټر

دا به جالبه وي؛ خو که ازادي غواړئ، نو خپل احساسات باید په یوه نظم کې رامحدود کړئ. دې ته کرکټر پکار دی. د ډسپیلن رامنځته کولو یوه ښه لاره خوند ځنډول دي. زموږ نسل دا کار سم نه شي کولای، موږ سمدستي خلک یو او هر څه سمدستي غواړو. زما مور و پلار هغه نسل و چې ستر اقتصادي ناورین یې کتلی و او په دویمه نړیواله جګړه کې جنګېدلي وو، دوی تر موږ ډېر باډسپلینه او منظم ښکاري. ډیوډې کالاهن تر جګړې وروسته د فارغانو یو ټولګی ازمویلی دی چې ۹۰ سلنه یې سرتېرې وو. په تجربه کې هغه فارغان چې پخوا د سترو شرکتونو لکه جونسن اینډ جونس، سټي کپیټل او نورو لویو شرکتونو رهبران وو، له اوسنو عادي اجراییوي رییسانو سره پرتله شوي دي. کالاهان لیکي:((اوس په دې نسل کې د قربانۍ حس لږ دی او زیاتره یوازې د خپل ځان لپاره د څه ترلاسه کولو هڅې کوي.)) ۷

د کاروبار کوم مشران چې یوازې په خوند او ګټو پسې ګرځي، په ډېر خپګان باید ووایو چې د خپلو پلیونو (پلویانو) په مقابل کې ځان بې باوره کوي. چا ته چې خوند او ارامتیا تر حقیقته ډېر ښه ښکاري او مینه ورسره لري، له خلکو سره به یې ستونزې رامنځته شي.

۳. واک

په امریکا د کاروبار زیاتره قضیې په دې خاطر رامنځته شوې دي چې لوړپوړو چارواکو له خپل موقفه ناوړه ګټه اخیستې ده. دوی فکر کاوه دوی چې د عامه کاروباري شرکتونو له شتمنۍ سره باید د شخصي شتمنیو په څېر چلن وکړي. له بده مرغه زیاتره خلکو ته واک داسې دی لکه مالګینې اوبه. څومره یې چې څښې هومره تږي کېږي. زموږ مشران پر دې پوهېدل، په دې خاطر یې د دریو څانګو یا برخو درلودونکې دولت جوړ کړ چې چیک، بیلانس او واک پکې راځي.

واک داسې دی لکه مالګینې اوبه، څومره یې چې څښې هومره تږی کېږي.

د امریکا پخواني ولسمشر جان ادامز ویلي:((هېڅوک دومره پوه او ښه نه دي چې د نامحدود واک باور دې پرې وشي.))

**دوام لري...**

# نیپال

حشمت الله نوري



نیپال د آسیا په جنوب کې د چین او هند تر منځ د شمالي عرض البلدونو د ۳۰ او ۲٦ درجو او د ختیځ طول البلدونو د ۸۰ او ۸۸ درجو په مینځ کې موقعیت لري، چې ټولټال یې پراخوالی ۵۴۱۵۴ میل مرتع ته رسېږي.

د نیپال شمال ته چین تبت، جنوب ته هند، ختیځ ته یې هم هند او لوېدیځ ته یې د هند جنوبي پولې پرتې دي.

نیپال غرنی هېواد دی، ځکه یې ژمی اوږد، سوړ او واورین- وچ دی. د دغه هېواد د جنوبي او ختیځو برخو هوا توده او لنده ده، د نیپال ختیځې برخې هر کال په منځنۍ توګه تر ۲۰۰۰ ملي متره پورې اورښت لري.

نیپال په وچه پورې تړلی کوچنی غرنی هېواد دی، چې اوږدوالی یې له ختیځ څخه لوېدیځ ته ۱۳۰۰ کیلومتره او پلنوالی یې له شمال څخه جنوب ته ۲٦۰ کیلومتره دی.

دغه هېواد د ټیټو دښتو او جګو غرنیو سیمو د لرلو په وجه بېلابېل طبیعي جوړښتونه لري. د نیپال شمالي سیمې د همالیا د غرونو لړیو نیولې، چې زیاتره په ځنګلونو پوښلې دي.

د دغه هېواد پلازمېنه د کتمندو ښار دی او ټولټال څه باندې ۲۸ میلیونه نفوس لري، چې په هر کیلومتر مربع سیمه کې یې ۲۰۳ کسان ژوند کوي.

د نیپال ۲۵ سلنه وګړي په ښارونو او پاتې ۷۵ سلنه نور یې بیا په کلیو او بانډو کې ژوند کوي. د دغه هېواد د قانون له مخې، هره کورنۍ په ټول عمر کې یوازې د دریو ماشومانو د درلودو حق لري.

دغه هېواد د اداري وېش له کبله پر ۱۴ سیمو وېشل شوی دی. بیرات، لام بهایي پور، دانکتا، موستاتک، بایتادي، پوخارا، پټان پالیا او نیپال ګانې د دغه هېواد لوی او مهم ښارونه دي.

د دغه هېواد د حکومت ډول مشروطه پاچایي دی. د نیپال اوسنی ولسمشر میرمن بیدیا دوی بانداري او لومړی وزیر یې له ولسواکۍ څخه وروسته د هغه ګوند له خوا چې په ملي شورا کې اکثریت رایې وګټي، ټاکل کیږي. د نیپال د کابینې وزیران د لومړي وزیر په وړاندیز د پاچا له خوا ټاکل کیږي.

د نیپال ملي شورا ٦۰۱ غړي لري چې ۲۴۰ یې د خلکو په خوښه او ۳۳۵ یې د سیمو په تناسب او پاتې ۲٦ نور یې د کابینې له خوا ټاکل کیږي.

د دغه هېواد حقوقي نظام د هندو مذهب پر حقوقي اساساتو او انګلیسي قوانینو ولاړ دی. د دغه هېواد عالي حقوقي اداره ستره محکمه ده چې غړي او قاضی القضات یې د پاچا له خوا ټاکل کیږي.

نیپال په نړۍ ک له داسې بېوزلو او لږ پرمختللو هېوادونو څخه دی، چې ۱۵ سلنه خلک یې په بېوزلۍ کې ژوند کوي. کرنه د دغه هېواد د اقتصاد اساسي ستنه بلل کیږي، دغه سکټور د نیپال د ۸۰ سلنه خلکو لپاره خوراکي توکي او د ټول هېواد ۳۵ سلنه ناخالص کورني تولیدات برابروي.

د نیپال صنعتي کارخونې د هغو اومو توکو د پروسس او پخولو پر کار لګیا دي، چې د کرنې له سکټور څخه لاس ته راځي. لکه جوت، ګني، تنباکو او حبوبات په دې وروستیو وختونو کې د نیپال د ټوکرانو او غالیو تولید دومره زیات شوی چې له ۱۹۹۷ تر ۲۰۰۰ ز کال پورې یې د هېواد ۸۲ سلنه بهرني اسعار برابر کړي دي. دغه هېواد په کرنیزو ځمکو او ځنګلونو سربېره، د میکا د قیمتي ډبرې سترې زېرمې لري. د دغه هېواد د اوبو برېښنا او توریزم د پرمختیا په حال کې دي.

له ۱۹۹۱ ز کال څخه را پدېخوا د نیپال دولت له داسې ریفورمونو سره پر مخ وخوځېد، چې په دغه هېواد کې یې د سوداګرۍ پرمختیا او بهرنۍ پانګه اچونه هڅوله. د بېلګې په توګه، د نیپال دولت د پانګې اچونې د اسانتیا لپاره د راجستر کولو ستومانه کوونکي اداري بیروکراتیک چلند او د سوداګرۍ جوازونه حذف کړل. همدا راز د دغه هېواد دولت د دولتي لګښتونو د کمولو لپاره سبسایډي کمه کړه، دولتي صنعتي فابریکې یې په خصوصي سکټور خرڅې کړې او د دولتي مامورینو او کارکونکو شمېر یې کم کړ.

په تېرو څو کلونو کې سیاسي بې ثباتي پنځه حکومتونه په دغه هېواد کې له پښو وغورځول، له همدې امله د اقتصادي اساسي ریفورمونو په تطبیق کې د کتمندو وړتیا ته زیان ورسید. نیپال د خپل راتلونکې اقتصادي ودې لپاره د اوبو د برېښنایي تولید د زیاتوالي او د توریزم په شان بالقوه امکانات ډېر لري. اټکل کیږي چې د نیپال اوبه د ۴۳۰۰۰۰ میګاواټه برېښنا د تولید ظرفیت لري.

توریزم، غالۍ، ټوکران، جوت، کاغذ، بوره، غوړي، اورلګیت، سیمنټ، لرګین تولیدات، لرګي او لاسي کارونه د دغه هېواد مهم صنعتي توکي بلل کېږي.

د نیپال ۱۷ سلنه ځمکه د کرلو وړ ده، د دغه هېواد ۱۵ سلنه خاوره څړځایونو او پاتې نوره یې ځنګلونو، غرونو، بیدیاوو، سیندونو، ښارونو او د استوګنې کلیوالو سیمو نیولې ده. همدا اوس د نیپال یو څه ځمکه کرل کیږي، د نیپال ۷۷ سلنه خلک د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي او د هېواد ۳۴ سلنه ناخالص کورني تولیدات له همدې سکټور څخه لاس ته راځي.

ګني، تېلي دانې، تنباکو، وریجې، جوار، غنم، کچالو، سابه، مېوې او غوښه د دغه هېواد مهم کرنیز محصولات بلل کېږي.

دغه هېواد ۴۷ هوایي ډګرونه لري چې ۱۳ یې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي. د دغه هېواد د ټیلیفون کوډ ۰۰۹۷۷ او د انټرنېټ کوډ یې بیا PN دی چې ټولټال یې یو میلیون کسان لاسرسی ورته لري.

د نیپال دولت دوه ټلوېزیوني او راډیویي چینلونه لري، په دغه هېواد کې له ۲۰۰۷ ز کال څخه را پدېخوا ٦۰ خصوصي راډیوګانې او ٦ سیمه ییز ټلوېزیونونه جوړ شوي، چې لا هم په دې برخه پانګونه په چټکۍ روانه ده.

دغه هېواد د آسیا او نړۍ له بېوزله هېوادونه څخه دی، هر نیپالی په منځنۍ توګه په کال کې کم عاید لري چې په نړۍ کې له کمو عوایدو شمېرل کیږي. د نیپال له ۱۵ کلونو څخه پورته ۷۰ سلنه خلک پر لیک او لوست پوهیږي. په دغه هېواد کې زده کړه د ٦- ۱۴ کلنو ماشومانو او تنکیو ځوانا لپاره وړیا او جبري ده.

د نیپال لرغوني تاریخ په افسانو کې نغښتی دی، له دې افسانو څخه داسې ښکاري چې د کتمندو د زرغوني درې نوم څو پېړۍ د نیپال له نامه سره مترادف و، له افسانو څخه ښکاري چې هغه وخت په دې سیمه کې د تبت چین، هند او د همالیا د ختیځې برخې کلتوري اغېز خورا پیاوړی و.

په اوومه پېړۍ کې نیپال یو آباد وطن و چې لاسي صنایعو او سوداګرۍ یې ښه پرمختګ کړی و. په اتمه پېړۍ کې نیپال د تبتیانو لاس ته ورغی، په ۱۱مه پېړۍ کې د تبتیانو د قدرت له کمېدو سره جوخت په نیپال کې د هند نفوذ زیات شو او په ۱۴مه پېړۍ کې د هند د تیرهوت پاچا هري سینها چې له مغولي یرغلګرو څخه تښتېدلی و، هغه په نیپال کې یوه پاچایي جوړه کړه. په ۱۵مه پېړۍ کې یوه بل هندي واکمن د کتمندو دره او د هغه شاوخوا سیمې لاندې کړې. د ده له مرګ وروسته د ده لخوا نیول شوې سیمې د ده د زامنو تر منځ ووېشل شوې او د کتمندو پټان او پادګان په نومونو درې پاچایۍ جوړې شوې او په ملک کې اړو دوړ رامنځ ته شو.

په ۱٦مه پېړۍ کې ګورخه کورنۍ واک تر لاسه کړ او د خپلې واکمنۍ سیمه یې ډېره پراخه کړه. په ۱۷٦۹ ز کال کې یې د کتمندو دره ونیوه او د کتمندو ښارګوټی یې د خپل سلطنت د پلازمېنې په توګه وټاکه.

دا وخت په هند کې د انګلیسانو د ختیځ هند کمپنۍ وغوښتل چې له تبت سره د نیپال له لارې د سوداګرۍ د پراختیا په هیله د نیپال له مشرانو سره اړیکې پیدا کړي. په ۱۷٦۷ ز کال کې د نارایان شاه او انګلستان روابط ځکه خرپړ شول چې انګلیسانو د ګورخه د کورنۍ د واکمنۍ پر ضد د نیواري د کورنۍ ملاتړ کاوه.

کله چې په ۱۹۴۷ ز کال کې هند خپلواکه شو، د نیپال خلکو د مشروطه پاچایۍ لپاره خپلې هڅې زیاتې کړې. له همدې امله رانا اړ شو چې ډیکتاتوري پرېږدي او خپل حکومت ته ډیموکراټیکه بڼه ورکړي. په ۱۹۵۰ ز کال کې د نیپال پاچا د خلکو د فشار له امله کار پرېښود او هند ته یې پناه وروړه. په ۱۹۵۱ ز کال کې تریبهووانا د هندي پوځونو په مرسته واک تر لاسه کړ او خلکو ته یې د اساسي قانون او عمومي انتخاباتو وعده ورکړه. په ۱۹۵۲ ز کال کې د فبرورۍ په ۱۲مه د نیپال لومړنی اساسي قانون نافذ شو او د دغه هېواد لپاره داسې مشروطه پاچايي نظام په پام کې ونیول شو، چې ملي شورا یې دوه جرګې لري. دا وخت پر نیپال باندې د انګلستان اوږده سلطه پای ته ورسیده او نیپال د یوه خپلواک دولت په توګه د ملګرو ملتونو د موسسې غړی شو.

د افغانستان او نیپال تر منځ لومړنۍ سیاسي اړیکې په ۱۳۴۰ لمریز کال کې جوړې شوې. په ۱۹٦۹ ز کال کې د افغانستان پاچا محمد ظاهرشاه نیپال ته سفر کړی و، نیپال په ۱۹۷۸ ز کال کې خپلې سیاسي اړیکې له افغانستان سره وځنډولې چې تر اوسه په همغه حال پاتې دي.

له افغانستان څخه تر نیپال پورې د هوا له لارې فاصله ۱٦۷۹ کیلومتره او همدا راز د کابل او کتمندو ښارونو تر منځ د وخت توپیر ۱:۳۰ ساعته دی.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۶,۸۵ |
| € | ۸۳,۷۰ |
| Rp. | ٤۹٤ |
| ₹ | ۱۰۹۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹۹,۷۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانۍ

# له شرافتمندۍ پرته بریا ناشونې ده

ژباړه: حمیدالله حمیدي

په ممبیي کې ژوند کول د «سیمي» یوه هیله وه. د همدې لپاره کله یې چې په یوه کوچني ښار کې خپلې لوړې زده کړې پای ته ورسولې، د یوه نوي ژوند د پیلولو لپاره ممبیي ته مهاجره شوه. هغې د دې ښار په اړه مخکې له مخکې ډېر څه اورېدلي وو او څېړنه یې کړې وه. بې صبره دې ته په تمه وه چې څه وخت به دغه ځای ته ورځي، خو په ممبیي کې ژوند کول هغسې نه وو لکه سیمي یې چې په اړه فکر کړی و. دلته هر څه مخ پر ځوړ روان وو او مخابراتي کمپنیو هم نوي کسان پر دندو نه ګومارل. هغه ډېر وخت له یوې کمپنۍ څخه بلې او له بلې څخه بلې ته ولاړه، په دنده پسې سرګردانه وه، خو ونه توانېده چې دنده پیدا کړي. لنډه دا چې چانس ورسره یاري نه کوله او هر ځای به چې ولاړه، مخه به یې بنده شوه. هغه وو چې نوره ستونزو او د ژوند بدو حالاتو ته تسلیمېده. یوه ورځ یې له یوه کس سره وپېژندل او هغه د مرستې ژمنه ور سره وکړه. کومه دنده یې چې ورته په نظر کې نیولې وه، ښه معاش یې درلود، خو هغه کس هم ترې یو څه تمه درلوده. یوه ورځ یې له سیمي سره اړیکه ونیوه او ترې وېې غوښتل چې ژر شرکت ته ورشي. سیمي بله چاره نه درلوده، دندې ته یې بیخي ډېره اړتیا وه، نو اړ شوه چې شرکت ته ورشي. کله چې شرکت ته ورسېده، نو په شرکت کې پرته له هغه کس څخه بل څوک نه وو. کس ورته ځینې کاغذونه وړاندې کړل چې امضا پرې وکړي او دنده یې پیل کړي، خو تر څنګ یې ورته وویل چې ته هم باید له ما سره یو څه مرسته وکړې. سیمي وویل، سمه ده ته چې هر څه غواړې زه یې کوم. مخامخ ناست کس ورته وویل، که غواړې چې د یوې ښې تنخوا لرونکې دندې څښتنه شې، نو ته باید له ماسره هم بستره شې.

دې خبرې سیمي ته ټکان ورکړ، سخته په غوسه او ناهیلې شوه، په ځای کې یې ودرېده، ناست کس ته یې یوه کلکه څپېړه په مخ ورکړه او په ژړا له شرکت څخه ووته. یو څه وخت نه و تېر شوی چې دنده یې پیدا کړه، په دنده کې یې ترفیع وکړه او د هغه پخوانۍ وړاندیز شوې تنخوا پنځه برابره تنخوا یې اخیسته. که سیمي د هغه کس غوښتنه منلې وای او د یوه ناوړه کار په بدل کې د دندې څښتنه شوې وای، څه به پېښ شوي وو؟ غرور او پاک لمنې یې له لاسه ورکوله. شرافت ستاسو د ژوند برخه ده، په هره بیه چې وي باید له هغه څخه دفاع وکړئ او ساتنه یې وکړئ. تاسو باید ربښتیني، سرلوړي، منظم، شرافتمند، باایمانه او پاک لمنې اوسئ. دا هغه موارد دي چې ستاسو شخصیت او اصالت جوړوي. د ژوند تر ټولو سختې شیبې هغه دي چې موږ خپل شرف له لاسه ورکړو او معامله پرې وکړو. دا په ربښتیا هم هغه ځای دی چې موږ پکې ماتې خورو. راځئ یوه بله کیسه هم درته وکړم: «بولا» تازه په یوه ودانیز شرکت کې د موټر چلوونکي په توګه دنده اخیستې وه. ده باید هره اونۍ د شرکت د جنراتور لپاره ۵۰ لېتره تېل اخیستی. دغه ۵۰ لېتره تېلو پوره ۳۰ ساعته کار ورکاوه، خو کله چې بولا په یاد شرکت کې کار پیل کړی او دغه دنده ور وسپارل شوه، په ۵۰ لېتره د ماشین د چلېدو وخت ۲۳ ساعتونو ته راښکته شوی و. پنځه اونۍ دغه پېښه تکرارېدله او بالاخره د شرکت د مدیر حوصله تنګه شوه. له بولا څخه یې پوښتنه وکړه، ایا له هغو پیسو څخه چې شرکت یې درکوي، کوم شی ځان ته هم ګرځوې که نه؟ بولا ځواب ورکړ، نه! له څېړنو وروسته ثابته شوه چې بولا هره اونۍ د ۵۰ لېتره پر ځای ۳۹ لېتره تېل د شرکت جنراتور ته اخیستل او پاتې پیسې به یې په خپل جېب کې اچولې. دغه څه د شرکت لپاره بیخي د منلو نه وو او بالاخره بولا د خپل دې کار له کبله زنداني شو. هغه نه یوازې خپله دنده، بلکې شرافت یې هم له لاسه ورکړ. د دې لپاره چې ربښتینی خدمت مو کړی وي، داسې کار وکړئ چې هغه نه په پیسو واخیستل او نه هم محاسبه شي او دغه څه له شرافت او صداقت پرته بل څه نه دي. که پر حالت او هر ډول شرایطو کې وی، هڅه وکړئ چې صادق واوسئ. صداقت مو د نابودۍ لامل نه، بلکې د ازادۍ او سرلوړۍ لامل کېږي. دندې ته مو ژمن اوسئ او داسې یې تر سره کړئ، چې رییس، مدیر، همکاران او ټول مو ستاینه وکړي. داسې کار مه کوئ چې خلک در څخه نفرت وکړي. داسې ژوند وکړئ چې خلک په هر حالت له تاسو سره ملګرتیا وکړي او په ملګرتیا مو وویاړي.

که سوداګریزې چارې مخ ته وړی، نو پر پېرودونکي مو تقلبي شی مه پلورئ؛ په مشتریانو مو باکیفیته شی وپلورئ، داسې چې هم در څخه ښه خاطره ولري او هم بیا بیا درته راشي او جنس در څخه وپېري. صداقت او شرافت د یوه سوداګر تر ټولو ښه پانګه ده. د یوه رهبر په توګه نور له تاسو څخه الګو اخلي، نو پام مو وي چې هغوی در څخه ګمراه او لار ورکي نه شي. د یوه رهبر لپاره تر ټولو اړینه خبره شرافت دی. له شرافت پرته بریا ناشونې ده. مهمه نه ده چې تاسو د څه ډول ډلې رهبر یاست، خو داسې یو رهبر باید نه وی چې د پیسو لپاره خپل شرافت خرڅ کړی. تاسو به ځینې رهبران لیدلي وي چې د ټاکنیزو کمپاینونو پر وخت خپلو پلویانو ته ډېرې غوړې وعدې ورکوي، خو همدا چې پر څوکۍ کېناست، بیا خلک او خپلې وعدې له یاده باسي. خلکو ته وایي چې له فساد سره به مبارزه کوي، خو بیا خپله په فساد کې ښکېلېږي.

باب مارلي وایي: «لویي په شتمنۍ کې نه، بلکې په شرافت کې ده.» تاسو باید داسې کارونه وکړئ چې ستاسو د شرافت څرګندونه وکړي. دغه مشهوره خبره به مو اورېدلې وي چې وایي:«که ور سره جنګېدلای نه شی، بیا ور سره مله شئ، خو زه نن تاسو ته وایم چې هېڅکله د دو روپیو لپاره خپل شرف مه خرڅوئ او د یو چا د خوښۍ لپاره خپل عزت او شرف مه پلورئ او ځان مه بدلوئ. هڅه وکړئ چې خپله اوسئ، که یوازې وی او که د خلکو په منځ کې، ځان مه بدلوئ، ځکه اصیل انسان هر وخت خپل ارزښت او شرف ساتي. د نه ویلو زړه باید ولرئ. د ربښتیا ویلو او ربښتیا منلو شجاعت باید در سره وي. هڅه وکړئ تل ښه کار د دې لپاره چې ښه کار دی، تر سره کړئ. دا د یوه شرافتمند ژوند اصل دی. د «استون» دغه کلمې مو باید په یاد وي: «هېڅکله په ازموینه کې درغلي مه کوئ، په سوداګرۍ کې د خلکوسترګو ته خاورې مه ور شیندئ، په انساني اړیکو کې خیانت مه کوئ، په ورزش کې خیانت مه کوئ او لطفاً په ژوند کې هم خیانت مه کوئ. تل شرافتمند اوسئ.»

## حقوقپوهان: په مهمو غونډو کې د امرالله صالح ګډون هېڅ ډول قانوني توجیح نه لري

د ولسي جرګې ځینې غړي او د سیاسي چارو پوهان په مونیخ امنیتي غونډه کې د ولسمشر غني تر څنګ د امرالله صالح ګډون د هغه استخباراتي شالید او د سیالو ټاکنیزو ډلو پر وړاندې سیاسي مانور ګڼي.

د ولسي جرګې ځینې غړي پر دې باور دي چې ولسمشر غني په مونیخ غونډه کې د امرالله صالح په ګډون، سیالو ټاکنیزو ډلو ته خپل سیاسي مانور وښود او د صالح ګډون د دې ښکارندویي کوي چې قومي انډول برابر دی او دغه شان د هغه له استخباراتي تجربو استفاده کوي.

د دې جرګې غړي محمد عارف رحماني ویلي، په هېڅ قانون کې نه دي راغلي چې د یو ټاکنیز ټیم غړی دې په رسمي غونډو کې ګډون وکړي او دا کار د منلو وړ نه دی. هغه زیاته کړې: «دوه دلیلونه کولی شي دې سفر ته توجیه ورکړي، البته سیاسي نه خو حقوقي، یو دا چې هغه په امنیتي چارو پوه کس دی او دویم دا چې د قومي انډول په پام کې نیول ښیي او په دې کار هغه غواړي له دې باره ځان خلاص کړي، خو ویلی شو چې له ولسمشر غني سره د امرالله صالح دا سفر ډېر قانوني اړخ نه لري، د قانون په هېڅ ځای کې نه دي راغلي چې کوم کس چې د ټاکنیز ټیکټ غړی وي، په کورني او بهرني سفرونو کې ګډون وکړي، ښکاره خبره ده چې د ښاغلي غني دا کار خپلو سیالو ټاکنیزو ټیکټونو ته د یو ډول سیاسي مانور ښکاره کول دي.»



دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې هم د ولسمشرۍ ماڼۍ او د امنیت شورا په ځینو غونډو کې د امرالله صالح ګډون د ځینو سیاسي کارپوهانو او ټاکنیزو ډلو غبرګونونه راپارولي وو.

ولسمشرۍ ماڼۍ د دې نیوکو په ځواب کې ډېرې وخت ویلي چې امرالله صالح یوه پېژندل شوې سیاسي څېره ده، نو کولی شي په دغو غونډو کې ګډون وکړي.

په ورته وخت کې حقوقپوهان هم وایي چې د امرالله صالح دا سفر له حقوقي پلوه د توجیه وړ نه دی.

د پوهنتون استاد او حقوقپوه نصرالله ستانکزي ویلي: «د پرنسیب پر بنسټ امرالله صالح په دولت کې هېڅ ډول موقف نه لري، د ډیپلوماټیک پروتوکول په پام کې نیولو سره پوهېږم کله چې د چارواکو سره په رسمي توګه مذاکرات پیلېږي، هغوی د ښاغلي صالح سره د کوم موقف خبرې کوي؟ زما په نظر که دا سفر د یو شخص له انده عادي سفر وي، بیا سمه ده، خو د دې سربېره دا سفر د رسمي اړخه مانا نه لري، نو لاسته راوړنه به هم ونه لري.»

## ملګرې ملتونه: د سولې خبرو له بریالي کېدو وروسته د افغان کډوالو ستنولو ته زمینه برابروو

د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنر فلېپو ګرینډي بلوچستان ایالت ته د سفر پر مهال ویلي چې د امریکا او طالبانو تر منځ د مذاکراتو له بریالیتوب او په افغانستان کې د ثبات له رامنځ ته کېدو سره به بېرته خپل هېواد ته د افغان کډوالو ستنولو ته زمینه برابره کړو.

هغه زیاته کړې، په افغانستان کې حالات سم نه دي، د کار او روزګار زمینه نشته، که په داسې وخت کې افغان کډوالو بېرته ستانه کړای شي او هلته بې ثباتي رامنځ ته شي، دا به د هېچا په ګټه نه وي.

نوموړي ویلي: «د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ هم په داسې حالاتو کې د افغان کډوالو بېرته ستنولو ته زړه نه ښه کوي.»

د ملګرو ملتونو د کډوالو دغه عالي کمېشنر ویلي، په افغانستان کې روانه بې ثباتي د هېچا په ګټه نه ده، نو ښه به دا وي چې د کډوالو بېرته ستنول په منظم ډول وي.

دا په داسې حال کې ده چې نن په اسلام اباد کې د افغان کډوالو په اړه نړیوال کنفرانس جوړېږي چې پکې د ۲۰ هېوادونو د استازو تر څنګ، د ملګرو ملتونو سرمنشي انتونیو ګوتریش هم ګډون کوي.

ګرینډي زیاته کړې، دا چې افغانانو دلته په پاکستان کې لسګونه کلونه تېر کړي، په داسې حالاتو کې یې افغانستان ته بېرته تګ ستونزمن دی.

د هغه په خبره، د افغان طالبانو او امریکا تر منځ د سولې په خبرو کې پرمختګ د کډوالو لپاره هم ښه خبر دی؛ ځکه چې په افغانستان کې د ثبات په رامنځ ته کېدو سره به ډېری کډوال بېرته خپل هېواد ته ستانه شي.

نوموړي زیاته کړې: «په دې خبرو کې د پرمختګ امکان شته، افغانستان د امنیت له لحاظه پېچلې سیمه ده، خو د روانو مذاکراتو په بریالیتوب سره هلته حالات ښه کېدای شي.»

د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنر ویلي چې په کوټه کې یې د افغان کډوالو له استازو سره هم لیدلي او د هغوی مهمه پوښتنه او اندېښنه د افغانستان د امنیت په اړه وه. د نوموړي د معلوماتو له مخې، اوس هم شاوخوا څلورنیم میلیونه افغانان له خپل هېواده بهر د کډوالۍ ژوند کوي چې په دې کې یې یو میلیون او ٤۰۰ زره په پاکستان او یو میلیون یې په ایران کې مېشت دي چې اکثره یې کم عمره دي.

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily






دوشنبه د ۱۳۹۸ د سلواغې ۲۸مه | د ۲۰۲۰ د فبروري ۱۷مه | ۵۱۵مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۹ | ۱۸ | ۲۰ | ۱٤ | ۲۹ | ۲۲ |
| -۱ | ۳ | ٤ | ٦ | ۹ | ۷ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۱٤ | لمر ختل ۰٦:۳۸ | ماسپښین ۱۲:۰۸ | مازیګر ۰۳:۱۳ | ماښام ۰۵:۳۷ | ماخوستن ۰۷:۰۲

## نړۍ



## ستولټنبرګ: امریکا او برېټانیا په اغېزمن ډول د اروپا د امنیت چتر رامنځ ته کړی دی

۳

## باشنده‌گان حوزهٔ غرب: افزایش تلفات غیرنظامیان در حملات هوایی نگران کننده است



باشنده‌گان و اعضای شورای ولایتی حوزهٔ غرب کشور وارد شدن تلفات به غیر نظامیان را در حملات هوایی نگران کننده می‌دانند و می‌گویند که در این حملات به زنان و کودکان نیز تلفات وارد می‌شود.

باشنده‌گان و اعضای شورای ولایتی بادغیس می‌گویند که در کمتر از دو هفتهٔ پسین، در سه حمله هوایی در ولسوالی های بالامرغاب و مقر این ولایت، ۱۴ غیرنظامی به شمول زنان و کودکان، جان باختند.

عبدالعزیز بیک، رئیس شورای ولایتی این ولایت می گوید: «تلفات ملکی، خو این نگرانی ها متوجه همهٔ ملت، نیروهای امنیتی حتی حکومت مرکزی است. دایم تأکید در این باره صورت گرفته است که به تلفات غیرنظامیان، جدی متوجه باشند.»

ناصر عمرزی، فعال جامعهٔ مدنی در این ولایت نیز می گوید: «این که نیروهای امنیتی بین خود هماهنگی ندارد، بیشتر مربوط نیروهای امنیتی می شود. چرا این کارها را می کند؟ چرا به خاطر یک طالب، ده ها فرد ملکی و اطفال معصوم را شهید می سازد؟ برای ما واقعاً نگران کننده است.»

از سوی دیگر، اعضای شورای ولایتی فراه نیز می گویند که در ماه های پسین در چندین حملات هوایی در این ولایت، به غیرنظامیان تلفات وارد شده است.

به گفتهٔ آنان، در تازه ترین حملهٔ هوایی در فراه به روز شنبه گذشته، پنج تن از کارمندان گمرک و یک بازرگان این ولایت، کشته شدند.

خیر محمد نورزی، عضو شورای ولایتی فراه در این باره می گوید: «بعضی وقت این طور عملیات انجام می شود که آن مردم که نه در دولت است نه در طالبان است، به شهادت می رسند.»

## راپورونه: په عراق کې د نړیوال ائتلاف پر پوځي اډې بیا توغندیز برید شوی



د امریکا پوځي چارواکو ویلي، د عراق په پلازمېنه بغداد کې د امریکا سفارت ته څېرمه د امریکا په مشرۍ د ائتلاف پر یوه پوځي اډې څو توغندي لګېدلي دي.

تر دې دمه معلومه نه ده چې په دې راکټي برید کې چا ته د سر او مال زیان اوښتی که نه، خو دا په تېره یوه میاشت کې څوومه ځل دی چې په دغه هېواد کې پر امریکایي اهدافو ورته بریدونه کېږي.

چارواکو ویلي چې له دې برید سره د امریکا د سفارت په انګړ کې د خبرداري زنګونه وهل شوي، خو په دې اړه یې جزیات نه دي ورکړي چې توغندي چا او له کومه ځایه توغولي دي. د یادونې ده چې د امریکا سفارت د هغې پوځي اډې څنګ ته پروت دی، چې د داعش پر ضد نړیوال پوځي ائتلاف کاروي.

په ورته وخت کې د فرانسې خبري اژانس خبریالانو راپور ورکړی چې د څو توغندیو د چاودنو اوازونه یې اورېدلي دي.

د یادونې ده چې تر دې وړاندې واشنګټن په عراق کې پر امریکایي اهدافو په راکټي بریدونو کې هغه ملېشه دخیل بللي، چې ایران یې ملاتړ کوي، خو ایران بیا دغه تورونه رد کړي دي. وروسته له هغې چې امریکایي الوتکو په بغداد کې د ایران د سپاه پاسداران ځواک د قدس ځانګړي مشر قاسم سلیماني ووژه، دا څوومه ځل دی چې د امریکا پر سفارت راکټي بریدونه کېږي.

## چینايي چارواکي: پر کرونا ویروس د خلکو د اخته کېدو پېښې تر پخوا کمې شوې دي

چینايي چارواکو ویلي چې په دغه هېواد کې پر کرونا ویروس د خلکو د اخته کېدو پېښې تر پخوا کمې شوې دي. خو د روغتیا نړیوال سازمان بیا ویلي چې په دې اړه څه ویل تر وخت مخکې خبره ده.

د چین د روغتیا برخې چارواکو ویلي، پر دغه ویروس اخته ۱۴۲ کسان مړه شوي چې د چین په قلمرو کې د مړو شمېر ورسره ۱٦٦۵ کسانو ته رسېدلی.

په ورته وخت کې په دغه هېواد کې په یوه ورځ پر کرونا ویروس د خلکو د اخته کېدو د ۲۰۰۹ پېښو راپور ورکړل شوی، چې ورسره دا شمېر ٦۸ زره ۵۰۰ ته رسېدلی دی.


خو چینايي چارواکو ویلي چې دا پر کرونا ویروس د نویو پېښو د اندازې کموالی ښیي؛ ځکه ۳ ورځې مخکې پر دغه ویروس د خلکو د اخته کېدو د ۱۵۰۰۰ پېښو راپور ورکړل شوی و.

دا په داسې حال کې ده چې د هوبې ولایت چارواکو په دې وروستیو کې د دې ناروغۍ د کنټرول لپاره د تشخیص له نویو لارو چارو ګټه اخیستنه پیل کړې ده.

چینايي چارواکو ویلي، ۹۴۱۹ کسان چې پر دغه ویروس اخته شوي وو، روغ شوي او له روغتونونو رخصت شوي دي.

## ژوند

## ډېره غوسه مو د زړه د دربدو لامل کېږي




کوم کسان چې غوسه کېږي، پر نورو ناروغیو سربېره، د زړه له ټکان یا دورې سره ډېر مخ کېدلی او په زړه یې حمله را تللی شي. نوې څېړنه وایي، کوم کسان چې ډېره غوسه کوي، د خپلې غوسې په اندازه د زړه له حملو سره هم مخ کېږي.

ډېره غوسه کله کله ان د دې لامل کېږي چې د انسان په دماغ کې ځینې رګونه هم وچوېږي. په امریکا کې په دې اړه شوې څېړنه کې ویل شوي چې له غوسې وروسته د زړه حمله هر چا ته پېښېدلای شي. په څېړنه کې دا هم ویل شوي چې ممکن دا حملې له غوسې دوه ګړۍ وروسته پېښې شي. په دې نوې څېړنه کې ثابته شوې چې له غوسې دوه ګړۍ وروسته د زړه د حملې امکان پنځه چنده ډېر دی او د دماغو د رګ شکېدلو یا مغزي سکتې امکان بیا درې چنده ښودل شوی دی. د دې څېړنډلې مشر ډاکټر ایلز بېټ موستهوسکي وایي، کوم کسان چې ډېره غوسه کوي، د هغوی د زړه د دربدلو امکان هم ډېر دی.

## غواړئ اولادونه مو څه ډول لوی شي؟

یو کنفرانس ته پر لاره وم چې یوه تابلو مې ولیده. پر تابلو څه داسې لیکل شوي وو: خپلو اولادونو ته څه ور زده کوئ؟ لوی فکر او مشري له کوره پیل کېږي. فکر کوم چې د اولادونو د غوره تربیت لپاره تر ټولو اغېزناکه لاره دا ده چې په غوره بڼه ژوند وکړو، له ځان سره رښتیني و اوسو څو دوی هم په دې ارزښتونو پسې لاړ شي، که څه هم د دوی مزل بېل دی. هغو کوچنیو رهبرانو ته څه پیغام لرئ چې ستاسو کړنو او اعمالو ته ګوري او له تاسو څخه الګو اخلي؟ ایا دوی ته ښیئ چې په هر کار کې ښه والي ته پام وکړي؟ او یا دا چې دوی ته ور زده کوئ څو کوچني پاتې شي او د ژوند په ډېره



ټیټه سطحه کې لاس او پښې ووهي؟ د ونې مېوه د ونې له څهارچاپېره لرې نه توېږي. ستاسو اولادونه له هغه ډېر عمل کوي، څومره چې تاسو فکر کوئ. کولای شئ له خپلو اولادونو سره مرسته وکړئ څو خپلو موخو ته ورسېږي. ستاسو په ښې رهبرۍ سره دا کار شونی دی.

